سلطان جان کلیوال ۲۰۲۰/۰۳/۰۶

# د سولې مور

ویره او کرکه نه ده، د سولې مور مینه ده
اوسیدای نشي اورکی، د سولې کور مینه ده

په تاو تریخوالی باندې، غلبه سوله بولې
چی تری جګړه را زیږی، هغه د اورمینه ده

دوستي چی وړي له منځه او دښمني زیږوی
د ورونو منځ کی همیش، همدا د زور مینه ده

چی فاصلې جوړوی او سستوی اړیکې
دا بله مینه نه ده، دا د پیغور مینه ده

زمونږ دنیا یوه ده ، ټول د دنیا بچي یو
ښکلا زمونږ د دنیا، د سپین او تور مینه ده

راځئ چې سوله وکړو، راځئ چې مینه وکړو

چې مینه سوله نه وی، دا نو د ګور مینه ده

د کلیوال کلی کی، بیا را ټوکیږی مینه

چې پسرلی راولی، هغه د ورور مینه ده

مارچ/۴/۲۰۲۰تورنتو ـ کاناډا

**** **** ****

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواړی چې د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چې، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لاړ ښودنه تر لاسه کړی!

د سولې مور

S_klewal_de_sole_mor.pdf